اکبربری ۲۰۲۶/۰۷/۲۶

# تله راتله

موږخو هیڅ نه پیدا نه یو چي به هیڅ شو
موږله زوکړي مخکي هم اوسېدودلته
بیا چي ګډه سره بارکړو له دې ژونده
بل ځای نه ځو بیا به هم پایو همدلته
بس تو پیر به یي همدومره وي لالیه
چي به دا شکل اوصورت بدل کړو بل ته
بیا د بل شکل اوصورت کار به هم بېل وي
بیا به بل شاني کیسي کاندو یو بل ته
بس همدغه سلسله د تلو راتلو ده
بس همدغه بدلېدل دي له یوه بل ته
ځوچي دا مځکه ، داخاوره او هستي وي
دغه تله او دا راتله به هم جاري وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ